Mr. Diijon DaCosta, Sr., د بورډ رییس
Mrs. Deirdre P. Pierce، *مرستیاله رییسه*
مېرمن Anna Hill
مېرمن Whitney McGinniss
آغلې Allyson Gevertz
مېرمن Vickie B. Turner
Dr. Joyce Morley

DeKalb County School District
Dr. Devon Q. Horton، *رییس*

**په سمدستي توګه اعلانولو لپاره**

11 اګست 2023

**اړیکه ونیسئ:**
Donald Porter، *Ed.D.* 678-481-4110
Carla Parker 404-734-1717

## د 2023-24 ښوونیز کال لپاره DCSD لس نوي مدیرانو ته ښه راغلاست وایي

(STONE MOUNTAIN, GA) – د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی (*DCSD*) ښوونځیو د 2023-24 ښوونیز کال د نوي مشرتابه سره پیل کړ. د دې استثنایي مدیرانو د ټاکنې اعلانولو په وخت کې، د DCSD رییس Dr. Devon Horton د دې مدیرانو لپاره خپله لیوالتیا او د زده کړې په برخه کې غوره والي ته وده ورکولو لپاره د دوی ژمنتیا څرګنده کړه.

Dr. Horton وویل چې "موږ په دې خبره ویاړو چې زموږ زده کوونکو لپاره د *غوره والي لاسته راوړلو په خاطر د بدلون رامنځته کولو* لپاره د دوی د ژمنتیا له امله موږ دې نامتو مشرانو ته د دوی په نویو دندو کې هرکلی وایو." "زه ډاډه یم چې د 2023-24 تعلیمي کال او له هغې وروسته به دا نوي ټاکل شوي مدیران نوښت، ټول شمولتیا، مساوات او تعلیمي وړتیا پرمخ بوځي.

"زده کونکو، کارمندانو، کورنیو او ټولنې ته د دوی ډېره بیړه لیوالتیا په مثبت ډول د بریالي اتباعو د راتلونکي نسل په پالنه کې د ولسوالۍ ژمنتیا څرګندوي ترڅو هغوی اوس خپل ظرفیت ترلاسه کړي."

راتلونکی مدیران (*د ښوونځي د نوم له مخې د الفبا په ترتیب سره*) په لاندې ډول دي:

**Druid Hills منځنۍ ښوونځی** – آغلې Shaveeta Bonner – په رسمي توګه د Druid Hills د منځني ښوونځي مسئولیت په غاړه اخیستلو په وخت کې آغلې Bornner 22 کلنه تعلیمي تجربه لري چې له هغې څخه یې 17 کاله د Druid Hills په منځني ښوونځي کې تیر کړي دي. د هغې د تجربې په سفر کې د ساینس ښوونکي، د نړیوال لیسانس (IB) تنظیموونکي، مرستیاله مدیره او د مورینې دندې ترسره کول شامل دي. د مدیرې په توګه د آغلې Bonner لومړنی تمرکز ټول زده کوونکي دې ته چمتو کول دي چې د تل لپاره زده کوونکي او مسئولیت پېژندونکي وګړي جوړ شي ترڅو د نړیوالې ټولنې ننګونو سره د مقابلې لپاره سمبال وي.

**Fairington ابتدایي ښوونځی** – ښاغلی Alexion Clowers – د Fairington په ابتدایي ښوونځي کې د مشرۍ په غاړه اخیستلو په وخت کې ښاغلی Clowers د زده کړې په برخه کې 25 کلنه تجربه لري. د هغه د تجربې په مخینه کې 15 کاله د ښوونکي، د عالي ښوونځي د مشر روزونکي، د لاربښووني ملاتړ متخصص او د معاون مدیر په توګه کار کول شامل دي پداسې حال کې ټولې دندې یې په DCSD کې ترسره کړې دي. هغه د Georgia سویلي پوهنتون څخه د روغتیا او فزیکي زده کړې په برخه کې له ساینس پوهنځي څخه د لیسانس سند او د Albany دولتي پوهنتون څخه د تعلیمي رهبرۍ په برخه کې ماسټري ترلاسه کړې. د مدیر په توګه د هغه هدف په Fairington ښوونځي کې یو داسې ملاتړی اقلیم او کلتور چمتو کولو ته دوام ورکول دي چې د تدریس او زده کړې لپاره مناسب وي.

- نور -

**Fernbank ابتدايي ښوونځی** – میرمن Aaronlyn Wright – له 15 کلونو څخه ډېره تجربه لرونکي میرمن Wright دې ته چمتو ده چې د Fernbank ابتدايي ښوونځي مشري په غاړه واخلي. پداسي حال کي چې د ښوونکي، اکادمیک روزونکي، د لاربښووني ملاتړ متخصصي او د معاون مدیرې په توګه یې دندې ترسره کړي، هغه د ټولني سره ملګرتیا ته لیواله ده ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې زده کوونکي د زده کړې په برخه کې استثنایی تجربه ترلاسه کوي.

**د هنرونو لپاره د DeKalb ابتدايي ښوونځي** – Dr. LaTonya Donald - د DCSD څخه د فراغت سند ترلاسه کوونکي Dr. Donald په 1999 کال کي د تدریس دنده ترسره کولو لپاره ولسوالۍ ته بیرته راستنه شوه. هغې د Atlanta عامه ښوونځي ولسوالۍ او په نړیواله کچه د ابوظبي تعلیمي شوراسره هم د تدریس دنده ترسره کړې ده. په خارج کې د اوسیدو پرمهال، هغې د لاربښووني ملاتړ متخصصي، د معاون مدیرې او د مدیرې دندو پشمول په مختلفو پوستونو دندې ترسره کړي دي. هغه د وړکتون څخه تر 8 ټولګیو چاپیریالونو کې د STEM تصدیق او مشرتابه ازمیښت کې تجربه لري.

د هنرونو لپاره د DeKalb ابتدايي ښوونځی کې د مدیرې په توګه د خپلې نوې دندې له قبلولو څخه مخکې هغه په Pleasantdale ابتدايي ښوونځي کې معاون مدیره وه.

**Lithonia عالي ښوونځی** – Dr. Mulanta Wilkins – Dr. Wikins خپل تعلیمي سفر د DeKalb په سویل لویدیز عالي ښوونځي کې د ساینس ښوونکي په توګه پیل کړ. د خپل مشرتابه سفر پرمهال، هغې د Atlanta په عامه ښوونځیو کې د ښوونځي د مدیرې په توګه او د Fulton کاونټي ښوونځیو کې د عالي ښوونځي د معاون مدیرې په توګه دنده ترسره کړې. د هغې مشرتابه د معلوماتو پرمخ وړونکي پرمختګونو پایله درلوده کومې چې د زده کوونکو لپاره د پام وړ اکادمیک لاسته راوړني ترلاسه کړې. Dr. Wilkins په دې باور لري چې د ماشوم د روزلو لپاره یو کلي ته اړتیا ده. هغه د Lithonia عالي ښوونځي ټولني سره د همکارۍ په برخه کې ملګرتیا ته سترګې په لار ده ترڅو د اکاډمیک غوره چاپیریال رامنځته کړي.

**McClendon ابتدايي ښوونځی** – ښاغلی Raft Ingram – ښاغلی Intgram چې د زده کړې په برخه کې 16 کاله تجربه لري د McClendon ابتدايي ښوونځي نوی مدیر دی. د زده کړې د ځانګړي ښوونکي په توګه د دندې پیل کولو څخه وروسته، هغه د قضیې مدیر، لاربښود، سپانسر او د ورزشي روزونکي په توګه هم دنده ترسره کړې. د نهو کلونو راهیسې د معاون مدیر په توګه د دندې ترسره کولو څخه وروسته هغه د زده کونکو په زده کړه او بریالیتوب تمرکز کوي.

**Oak Grove ابتدايي ښوونځی** – آغلې - Valarie Kennedy د DCSD سره د آغلې Kennedy سفر په 1994 کې پیل شو. د پنځم ټولګي ښوونکي په توګه د دندې د ترسره کولو څخه وروسته، هغه داسې نورو دندو ترسره کولو ته ولیږدول شوه چې په هغه کې د لاربښووني ملاتړ متخصص رول شامل و مخکې له دې چې هغه په Oak Grove ښوونځي کې د معاون مدیرې رتبې ته ترفیع وکړي. د معاون مدیرې په توګه رامنځته کیدو کې د هغې ویاړ څرګند دی ځکه چې هغه د Oak Grove ابتدايي ښوونځي رهبري کولو ته تیاری نیسي.

**Robert Shaw Traditional Theme ښوونځی** – Dr. Kim Williams – د تعلیم به برخه کې 28 کاله تجربه لرونکي چې له جملې څخه یې 26 کاله په DCSD کې تیر کړي، Dr. Williams اوس د Robert Shaw Traditional Theme ښوونځي مشري کوي. د هغې په څو اړخیزه مسلک کې د ښوونکي، د لوست متخصصه، د ولسوالۍ روزونکي، د لومړي سرلیک ښوونیزه روزونکي، اکادمیک روزونکي او د معاون مدیرې په توګه دندې ترسره کول شامل دي. د Dr. Williams هدف د ښوونځي د اکاډمیک لوړتیا میراث ساتل دي.

**Stephenson عالي ښوونځی** – Dr. Kalisha Sackey – د تعلیم په بخش کې د 23 کلونو تجربه لرونکي Dr. Sackey د Stephenson عالي ښوونځي د مشرۍ دنده په غاړه لري. د هغې د تجربې په بدایه مخینه کې د عالي ښوونځي د ریاضي ښوونکي، اکادمیک روزونکي او د معاون مدیرې په توګه دندې ترسره کول شامل دي پداسې حال کې چې د خپل خدمت یوه څرګنده برخه یې Stephenson عالي ښوونځي ته وقف کړې. Dr. Sackey چمتو ده چې په ښوونځي کې د پرمختګ کار ته دوام ورکړي.

- نور -

Robert R. Freeman Administrative Complex
1701 Mountain Industrial Blvd. | Stone Mountain, GA 30083
678.676.1200 | www.dekalbschoolsga.org

**Stone Mountain منځنۍ ښوونځۍ** – آغلې Marshea Warner – د Druid Hills عالي ښوونځي څخه د فراغت سند ترلاسه کوونکې آغلې Warner په Stone Mountain منځني ښوونځي کې خپل لومړي ځای ته بیرته راستنه شوه. پداسې حال کې چې د تعلیم په برخه کې د دوو لسیزو تجربه په لاس لري هغې د منځني ښوونځي د ښوونکې، د مداخلې متخصصې، د معاون مدیرې دندې ترسره کړي او اوس د مدیرې په توګه دنده ترسره کوی. هغې د ماشومتوب د منځنۍ کچې زده کړو کې د ساینس لیسانس او د Georgia ایالت پوهنتون څخه په تعلیمي مشرتابه کې د ماسټرۍ سند او د لویدیځ Florida پوهنتون څخه د تعلیمي مشرتابه کې د تخصص سند ترلاسه کړی. آغلې Warner د Stone Mountain ټولنې د لاربښوونې فرصت درلودلو له امله خورا زیاته خوشحاله ده ځکه چې هغوی خپل هدف ته د رسیدو لپاره "د لور ټاکلو" په هڅه دي.

XXX

Robert R. Freeman Administrative Complex
1701 Mountain Industrial Blvd. | Stone Mountain, GA 30083
678.676.1200 | www.dekalbschoolsga.org